SHARIAT WEEKLY

شریعت اوونیزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

دریم کال نه څلویښتمه گڼه پرله پسې (۱٤۹) یکشنبه د۱٤۱۹هق کال د ربیع الثاني (۳) د۱۳۷۷ هـ ش کال د زمري دمیاشتې (٤) د۱۹۹۸ میلادي کال دجولاي (۳۱)

تعرض مشترك مليشه هاي وحدتي و شوراي نظار بر سنگر هاي اردوي اسلامي در ولسوالي غوربند ولايت پروان به نصرت الهي به شكست مواجه گرديد

اين دومين تعرض همزمان شوراي نظار و مليشه هاي خليلي است كه در جريان يك هفته گذشته صورت ميگيرد و به ناكامي و شرمساري ايشان مي انجامد

تعرض دشمن از دو استقامت بالاي مواضع و سنگر هاي مجاهدين اردوي اسلامي در ولسوالي غوربند ولايت پروان به نصرت الهي به شكست مواجه گرديده خسارات سالي و تلفات جاني بر آنان وارد گرديد .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد ، مليشه هاي بد نام خليلي و فساد پيشگان شوراي نظار، شب گذشته از استقامت هاي خطوط اول جنگ در چارده‌ي و منطقه خاك شان ولسوالي غوربند بالاي مواضع و سنگر هاي مجاهدين دست به تعرض زدند كه به مقاومت دليرانه نيرو هاي اردوي اسلامي مواجه گرديده و در نتيجه آتش متقابل مجاهدين يكتن از آنان به هلاكت رسيده و ده تن ديگر به اسارت اردوي مجاهدين اردوي اسلامي در آمده است .

همچنان با وارد شدن ضربات مرگبار و خورد كننده مجاهدين بر دشمن يكتعداد سلاح شان تخريب گرديده دشمن متعرض با ...

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډیر نږدي دی تقوا (پرهيزگاري) ته .

(سورة المائدة)

به اساس فرمان عاليقدر امير المؤمنين مبلغ يكهزار لك افغاني به مهاجرين كه دوباره به ولايت كنر عودت نموده اند توزيع گرديد

به اساس فرمان عاليقدر امير المؤمنين مبلغ يكهزار لك افغاني به مهاجرين كه دو باره به ولايت كنر عودت نموده اند توزيع گرديد .

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد: در محفليكه به همين مناسبت تدوير يافته بود بعد از آنكه آياتي چند از كلام الله مجيد قرائت گرديد، محترم مولوي عنايت الله ابلاغ وتحس عودت مهاجرين در رابطه به فراهم آوري تسهيلاتي كه از سوي امارت اسلامي افغانستان جهت عودت دو باره مهاجرين به وطن صورت گرفته اظهار قدرداني نموده بعداً مبلغ يكهزار لك افغاني را به اساس فرمان عاليقدر امير المؤمنين به مهاجرين ولسوالي هاي سركانو ،دره پيچ، مانوگي، اسمار، شيگل، نرنگ، اسلام دره و غازي اباد توزيع نمود.

جنگهای شدید میان صفوف حزب وحدت ادامه دارد

به شمول قوماندان سرور یکصدو ده نفر کشته شده است

با تلاشهاي پيگير ايران اختلافات ميان صفوف حزب وحدت پايان نيافته است

منابع موثق خبري از باميان خبر ميدهند كه در اين اواخر اختلافات ميان صفوف حزب وحدت شدت هر چه بيشتر كسب نموده است كه در نتيجه آن، درگيريهاي شديد مسلحانه ميان صفوف وحدت صورت گرفته كه در اثر آن يكصدو ده نفر به شمول قوماندان سيد سرور كشته شده است .

منابع مي افزايند كه خليلي از رهبري حزب وحدت سبكدوش گرديده است، در اين زمينه تلاشهاي پيگير ايران غرض آشتي جناحهاي حزب وحدت هم به نتيجه نرسيده است .

منابع خبري همچنان خبر ميدهند كه وقوع جرايم در شهر مزار شريف به اوج خود رسيده روزانه ده ها جرايم مختلف اخلاقي و تجاوز بر سر و مال مردم صورت ميگيرد ، مردم مزار شريف از هيچ نوع مصؤنيت سر، مال و ناموس بر خوردار نيستند

د کابل پوهنتون په ليليه کي دوه زره دري سوه ديرش تنه محصلين اعاشه او اباته کيږي

د کابل پوهنتون په ليليه کي همدا اوس دوه زره دري سوه ديرش تنه محصلين اعاشه او اباته کيږي او د ژوندانه ټول امکانات ورته برابر شوي دي.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : د کابل پوهنتون ليليه چي د پخواني رژيم د قدرت غوښتونکو ډلو د خپل منځيو جګړو له امله ويجاړه شوي او د محصلانو د استفادي وړ نه وه د مسوولو مقامات لخوا د افغانستان د اسلامي امارت له بودجي نه بيا فعاله او د پخوا په شان د محصلينو منلو لپاره چمتوده .

د کابل پوليتخنيک د بيا جوړوني کار په بيړه دوام لري

د کابل د پولي تخنيک د بيلا بيلو برخو د بيا جوړوني او ابادولو کار په بيړه دوام لري.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : د فوايد عامي وزارت سرپرست محترم ملا الله داد اخند په داسي حال کي چي يو شمير چارواکي او د تهيه مسکن رئيس محترم ملا محمد صبوراحمدي هم ورسره وو د کابل د پولي تخنيک د بيا جوړوني د کار بهير وکوت او د کار د چټکتيا په خاطر يي مسوولينو ته لازمي لارښووني وکړي. د پولي تخنيک د ودانيو د بيا جوړوني کار چي څه موده مخکي د تهيه مسکن د ساختماني دستگاه د انجنيرانو او کارگرانو له خوا پيل شوي و په بيړه دوام لري او ټاکل شوي ده په نږدي راتلونکي وخت کي د استفادي وړ وگرځي.

د ننګرهار ولايت د خوګيانو په ولسوالي کي د اوبو ديوه بند کار بشپړ شو

د ننګرهار ولايت د خوګيانو ولسوالي د کوز بهار د کلي د اوبو د بند کار په بري ... سره بشپړ او د استفادي وړ وګرځيد.

د جلال اباد له ښار نه د باختر خبريال ... خبر راکړ : دغه بند چي پخوا د بيلا بيلو عواملو له امله ويجاړ او د استفادي وړ نه و په دي وروستيو وختو کي د خښتو زون د تنظيمه رياست د مقام په لارښوونه بيرته جوړ او څه د پاسه شپږ سوه جريبه د کرني ځمکه پري خروبه شوه .

سنگ تهداب يك باب مدرسه در ولسوالي نرخ ميدان وردك گذاشته شد

سنگ تهداب يك باب مدرسه در مربوطات ولسوالي نرخ ولايت ميدان وردك در اين اواخر گذاشته شد .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد در گردهمايي كه بهمين مناسبت ... جلدوم مخ

افغان ليکوال محترم عبدالمحمد "مموزي" له شريعت اوونيزي سره په مرکه کي :

د اسلامي امارت د مخالفينو مشران او رهبران د ولس او ملت نماينده گي نه شي کولي د دوي لاس يو ځاي ښځي يي بل ځاي او فکرونه يي بل ځاي بند دي

ځني مجاهدينو په پته له کمونستانو سره اړيکي درلودي او شايي علت يي ژبني، قومي نژادي او ... عوامل وي

محترم عبدالمحمد «مموزي» د هيواد مشهور ليکوال دي، د هيواد په مطبوعاتو او اداري چارو کي يي ډير خدمت کړي دي له افغان جهاد سره له نږدي همکار پاتي شويده او په قلمي جهاد کي يي ډيره برخه اخستي ده اوس په آلمان کي اوسيږي . څو ورځي د مخه کابل کي د شريعت اوونيزي دفتر ته راغلي وو او د شريعت اوونيزي خبريال ورسره مرکه کړيده چي په کله يي سره لولو .

پوښتنه : مهرباني وکړي د شريعت اوونيزي لوستونکو ته ځان معرفي کړي ؟

ځواب : زما نوم عبدالمحمد او تخلص مي مموزي دي، د شرعيات ... له څخه فارغ او ډير کلونه مي د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې د وزارت په چوکات او مربوطاتو کي مختلفي دندې تر سره کړي او هم مي په تيرو کلونو کي د هيواد له مختلفو ورځپانو، مجلو، جريدو ... افغانستان سره قلمي همکاري لرله او د مطبوعاتو جايزه مي اخيستي ده ، له بلي خوا په تيرو کلونو کي مي ځيني کتابونه تاليف او ترجمه کړي .

ما د خپلي استوګني په ... څلورم مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

ارتباط ما با مردم قطع ميگردد !!؟

تعداد از مؤسسات و NGO هاي داخلي و خارجي در شهر كابل مصروف فعاليت در ساحات مختلف اجتماعي ميباشند ، البته مردم اكثراً در دو دهه جنگ اتكاي خود را به منابع شخصي و اجتماعي اقتصاد ملي و داخلي نسبت تخريب و كاسته شدن فعاليت هاي منابع متذكره ازدست داده و وادار گرديده اند كه به كمك هاي ناچيز و اكثراً غرض آلود خارجي حساب نمايند .

فعاليت مستقلانه موسسات و NGO ها در شرايط ناگوار و انقلابي فعلي كشور خواسته و ناخواسته زمينه پياده كردن اهداف نا ميمون اطراف كمك كننده را مهيا ساخته و در راه قيام وقوام سلطه و قدرت مركزي موانع را ايجاد نموده ضرورت تعلق و ارتباط پرسونل فني و متخصص كشور را با ادارات حكومتي تضعيف مينمايد كه به اين صورت حكومت از داشتن كدر هاي فني و چيز فهم علمي و اداري در موسسات و دفاتر حكومتي محروم شده كه از اين رهگذر فساد اداري ، ركود و خمود در دراز مدت در چرخش نظام اداري و تخنيكي كشور رونما خواهد گرديد .

امارت اسلامي افغانستان با خطرات و تشويش هاي متذكره كه از نگاه فعاليت هاي مستقلانه موسسات و NGO ها در دراز مدت متوجه نظم اداري و تخنيكي كشور بوده با آنهم روي مشكلات كه مردم باالفعل به آن مواجه ميباشند به فعاليت هاي موسسات متذكره به چشم اغماض ديده زمينه هاي فعاليت مساعد و معقول را براي اوشان آماده ساخته است .

دوهم مخ

له ميمني څخه راپورتاژ :

په فارياب کي د سولي او امن ځلانده پلوشي

که چيري د الله "ج" رضا وي نو موږ به له فارياب څخه د شمال نوري سيمي هم فتحه کړو

د هرات د څلورم نمبر قول اردو قوماندان ملا عبدالسلام مجاهد

د مليشو په ليکو کي د خدمت له امله شرميږم او د خجالت احساس کوم

دګرمن محمد عابد

د طالبانو د راتګ څخه مخکي دلته هيچا هم دخپل زوي، لور او مال اختيار نه درلود

د ميمني يو تن اوسيدونکي

څه د پاسه دوه ساعتونه مو په هليکوپتر کي پر له پسي منزل وواهه څو د بادغيس څخه تر ميمني پوري هغه اووده او د څنډونو څخه ډکه لاره چي طالبانو، دا د دين او هيواد ژغورونکو د ځمکي له لاري د دښمن څخه په سختو جګړو او بريالي مارشونو سره وهلي وه، لنډه کړو.

کله چي موږ د هوا څخه د بادغيس ميمني د لاري سختي، صعب العبوره غرونه او رغونه، کږ ليچي او پيچومي، سوزونکي دښتي او دري وليدي. يو ځل بيا مو په ذهنونو کي د طالبانو عظمت اتلولي، ايماني قوت او جذبه، اوسپنيز هوډونه او قرباني انځور شو چي په هغو يي دومره اغزنه او اوږده لار وهلي څو د خپلو فاريابي هيوادوالو لاس نيوي وکړي .

لکه څنګه چي د پښتو نوميالي شاعر خوشحال بابا ويلي :

تنګيالي چي يو ځل مخ کاپه کوملوري
بيا لو نه ويني کوهي دي که ګرنګ

د شاعر د پورتنيو ابياتو په مصداق، طالبانو چي له کومي ورځي څخه د الله «ج» په ځمکه کي د الله «ج» د قانون د انفاذ او د ملحدينو او د شر او فساد د توپکيانو د ظلم او ناوراوو څخه د مظلومو هيوادوالو د ژغورني لپاره سپيڅلي جهاد پيل کړي، د هيواد د بيلا بيلو سيمو د پاکولو په ترڅ کي يي دا ثابته کړي ده چي د داسي لاري کي هر ډول خنډ او کوهي که ګرنګونه دي، بلکي په اتلولي او کلکي ايماني جذبي سره يي د ستونزو سره غيږه ورکړي او په نابرابرو جګړو کي يي زور ور دښمن ځملولي او ستري حيرانوونکي فتحي يي کړيدي.

د فارياب ولايت بيلا بيلي ولسوالي او د هغه مرکز د ميمني ښار چي محمدي «ص» فاتح لښکر د يوي زړه وري حملي په پايله کي د شمال د جابرو او ظالمو مليشو ځنګل نه نيول شوي، اوس پکښي وادمنه سوله او امنيت تأمين دي. ددغو عملياتو د څرنګوالي او د فارياب په ولايت کي د سولي او امن د وضعيت په هکله د ملي دفاع وزارت مرستيال محترم الحاج ملا فضل محمد مظلوم چي پوځي قومانده يي په لاس کي ده داسي وويل : د اسلامي امارت د مشرتابه دا مرسره سم مو څو ورځي مخکي د بادغيس، فارياب په محاذ کي د دښمن په ضد يو بريالي تعرض پيل کړ چي د جګړي په لومړي ورځ مو د دښمن دفاعي کرښه ماته کړه او د قيصار او المار ولسوالي مو د هغوي څخه ونيولي له دينه وروسته مو د دښمن په عمق کي خپلو عملياتو ته پراختيا ورکړه او هغوي ته مو مجال ورنکړ چي زموږ په وړاندي د مقاومت کرښي ايجاد کړي هماغه و چي دښمن مو د ميمني تر ښاره پوري تعقيب کړ او د ميمني د ښار په شمول د فارياب ولايت مو د هغوي څخه ونيوه .

غواړم څرګنده کړم چي زموږ عمليات دومره ګړندي او تيز و چي ... څلورم مخ

شریعت

دتاسیس کال : ١٣٧٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتک»

مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»

دبوي ګڼي بیه : په هیواد کې (١٠٠٠) افغانی بهپاکستانکی(٣) کلداری

پوست بکس : (٤٧١) تیلفون: ٢٠٠٧٥

په پیښور کې :دطالبانونمایندګی تیلفون: ٨٤٤٣٣١-٨١٨١٥٧-٨١٥٦٢٧

جاري حساب : ٤٠٣٨٥ / ٩٧ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : دولتی مطبعه

بقیه سرمقاله

امارت اسلامي افغانستان در این اواخر غرض انسجام و بهبود هر چه بیشتر فعالیت هاي ادارات متذکره و ایجاد شرایط بهتر ارتباط فعال و نزدیك این ادارات میان همدیگر، دفاتر آنها را در یك محل مناسب از نگاه آب ، هوا و شرایط بهتر امنیتي انتقال دهد که منطقه انستیتوت پولیتخنیك از این رهگذر مناسبترین محیط و منطقه در داخل شهر کابل محسوب میگردد ، زیرا از نگاه آب و هوا مساعد ترین منطقه کابل را تشکیل میدهد و از نگاه امنیت هیچنوع تهدید داخلي و بیروني متوجه آن نمیباشد و از ناحیه ارتباط کاري مرکز فعالیت هاي موسسات و NGO ها را احتوا مینماید زیرا اکثر این موسسات پروګرام هاي در بخش اعمار مجدد نواحي تخریب شده شهر داشته و تعداد دیگر از آنها مصروف خدمت به مهاجرین غوربند و مناطق شمال میباشند که در صد - نود مناطق تخریب شده شهر کابل از منطقه پولتخنیك شروع و به پل آرتل منتهي میگردد و اکثریت مهاجرین متذکره هم در همین مناطق جا بجا شده اند که از این ناحیه موسسات متذکره و اهالي در ارتباط نزدیك و بدون مانع میان هم قرار میگیرند که این امر در تسریع پروسه کار آنها خیلي کمك کرده میتواند . تنها مسئله و پرابلم که قابل غور بوده آن تهیه آب و برق میباشد که امارت اسلامي اطمینان کامل و هر چه عاجل تهیه آب و برق را به موسسات متذکره داده است . اکنون که مشکل و پرابلم قابل حساب در میان نیست چرا موسسات تن به این اقدام قانوني و مطابق نورم هاي ملي و بین المللي امارت اسلامي نداده قرار را بر قرار ترجیح داده با ادعا هاي بلند و بالاي که از بشر دوستي داشتند از خدمت محتاجان شهر کابل شانه خالي کردند ؟ موسسات متذکره با بهانه هاي خورد و ریزه، که در زمینه ارائه میدارند بزرگترین دلیل و علت عدم انتقال دفاتر خود را به ساحه پولتخنیك ، قطع شدن ارتباط خود با مردم را نشان میدهند !!؟ هدف NGO ها از ارتباط با مردم چه نوع ارتباط میباشد؟ اگر ارتباط کاري باشد قبلاً گفته شد که ساحه پولتخنیك از نگاه ارتباط کاري با مردم مساعد ترین منطقه را احتوا مینماید ، در مسیر سرك عمومي قرار دارد مراجعین از بس هاي شهري بدون اینکه به تکسي ضرورت به افتد استفاده میتوانند در حالیکه مناطق وزیر اکبر خان و شهر نو از این نگاه براي مراجعین مشکل زیادي را ایجاد کرده بود و از جانب دیگر براي مراجعین پیدا کردن این موسسات که در کوچه ها و میان فامیل ها قرار داشتند مشکل بود و از طرف دیگر مزاحمت زیاد را براي فامیل هاي مقیم آنجا ها ایجاد نموده بود . طوریکه یاد آور شدیم منطقه پولتخنیك در ساحه کار و فعالیت موسسات متذکره قرار دارد که از این ناحیه ارتباط مستقیم و بدون مانع میان موسسات متذکره ، ساحه کار و مراجعین تأمین میگردد. اگر هدف موسسات متذکره از ارتباط با مردم ارتباطي باشد که زیر پرده تأمین و تعقیب میشود و توسط آن اهداف ضد ملي و دیني به پیش برده میشود و تشویش هم ممکن اکثراً از همین جا نشئت کرده باشد که منجر به اقدام اخیر گردید البته در این صورت به هیچ شکل و نوع اجازه همچو ارتباط مخالف منافع علیاي کشور ، حاکمیت دیني و ملي را به احدي نخواهند داد و NGO ها هم در تلاش استمرار همچو ارتباطات غیر قانوني و اصولي نباید بود .

حالا که تعداد موسسات و NGO ها روي اهداف به خصوص نظرباتي و سیاسي از کمك به شهریان کابل دست کشیدند و کمپاین بزرگ تبلیغاتي را به راه انداخته اند که گویا بدون کمك موسسات متذکره شهر کابل را خداي ناخواسته فاجعه در پیش خواهد گرفت و یا چنین و چنان، تا از این طریق روحیات و روان مردم شهر کابل را زیر فشار قرار داده علیه امارت اسلامي افغانستان تحریك نمایند و نگذارند که چهره اصلي و چگونگي موثریت این موسسات براي مردم ما و جهانیان بر ملا گردد ، مردم ما و جهانیان بدانند که موسسات متذکره در رفع قسمتي ناچیزي از مشکلات مردم ما یاري میرسانند که بدون آنهم میتوان که شهریان کابل به زندگي آبرو مند و متکي به خود ادامه دهند . پس برماست که صبر و استقامت را از دست نداده اگر مشکل مقطعي و زود گذر از این ناحیه متوجه زندگي ما میگردد آن را باید تحمل نمائیم زیرا دور و یا نزدیك این موسسات از همکاري با ما دست خواهند کشید طوریکه کشیده اند و براي همیش به اصطلاح در خدمت ما نخواهند بود. بر مسوولین امور میباشد که از امکانات دسته داشته خود کار گرفته در تقلیل مشکلات که از این ناحیه متوجه مردم ما گردیده کمك نمایند ، تنها توصیه و تبلیغ و مردم را به صبر و استقامت دعوت کردن مسؤولیت اوشان را رفع نمي نماید.

د ښاغلي سیرت وړوکي افغانستان !!!

د بن غونډه له وخت نه مخکي پاي ته ورسیده - یواځي پدي خبره لاس پورته شول چي لویه جرګه دي جوړه شي او د هیواد ربړه دي له همغي لاري حل شي دا چي لویه جرګه دي څوك ، چیرته او څرنګه جوړه کړي، دغه معما لا هماغسي لا ینحله پاتي ده .

د ١٣٥٧ لمریز په وروستیو کي چي چین پر ویتنام پوځي برید وکړ په کابل او ولایاتو کي د خلق پرچم بریځو مارشونو ته زور ورکړ او له افغانستان نه یي په چیغو او شعارونو د چین د برغل په وړاندي مقاومت پیل کړ، په مارشونو کي به د مارش مخکښانو لاسونه موټي او پورته کړل : « چین دي له ویتنام نه ووځي» د مارش برخوالو به ورسره غبرګه کړه «ودي وځي ، هورا، »د بن غونډه دي ته ورته کیسه ده ښایي سیرت پکي غړ کړي وي لویه جرګه دي جوړه شي او څو تنو پسي غبرګه کړي وي جوړه دي شي...

که څه هم هلته ددغه پریکړي او شعار په اړه هم ټول موافق نه وو او په تیمګړي ترکیب او یو اړخیز جریان یي ان له پیله تاندري او مخالفانه دریځو ته تیول شوي ؤ څکه خو یي نور جریان نشو موندلي او بي نتیجي پاي ته ورسیده. ښاغلي امین دغه پریکړه یا شعار د لویي جرګي پر نقش او تاریخي ارځښت لوبي کول وګڼل، او د ا کارېي لکه د ببرك کارمل، نجیب او رباني د هلو ځلو د ځنځیر یو بله کړي وبلله . لویه جرګه نه دي جبل السراج ائتلاف دي چي دوستم، پرچه او سځم سره کیني او د لوټ تالان لوبه او مسابقه پیل کړي. نه د هم غړي شورا ټوکه ده او نه هم د ماهیپر او ختجان ترون دي چي کله یو اړخ ته د جګړي اوربل کړه کله بل اړخ ته !

لویه جرګه تاریخي حیثیت او ارځښت لري، لویه جرګه یو ملي تقدس لري چي د هیواد د تباهي او بربادي مسوولین او ملي خائنان د هغي د جوړولو واك او صلاحیت نلري او د چا د شخصي اغراضو او اقتدار د حصول وسیله او ذریعه نشي ګرځیداي، د ښاغلي رسول امین خبره په ځاي ده چي نور باید د لویي جرګي پر نقش، تاریخي حیثیت او ارځښت لوبي او مسخري ونه وهل شي او د ناولو اهدافو له پاره وسیله ونه ګرځي .

ښاغلي محمد ګل دیاني په داګه وویل : د ملګرو ملتونو اشتباه دا وه چي د طالبانو حکومت یي تائید او تقویه نکړ بلکي هڅه یي وکړه چي هغوي له رباني سره سوله وکړي چي بوه بي نتیجي هڅه وه .

ښاغلي روښتار تره کي وویل : روسان د شمال ائتلاف له لاري په افغانستان کي د تفرقي اورته لمن وهي. ده زیاته کړه : افغانانو ته د سر ، مال او ناموس ساتل ډیر ارځښت لري او دغه ارځښت طالبانو خوندي کړي دي.

جنرال خدایداد هزاره وویل : افغانانو له روسانو سره د غري وهلي او قرباني یي ورکولي خو مسعود ورسره اوربند او تړونونه لاسلیکول ، د هیواد د ټولو بدبختیو مسوولیت د مسعود په غاړه دي .

ښاغلي عبدالخالق فضل وویل : د دغي غونډي جوړونکي یا خو خپل ځانونه غولوي او یا هم د خلکو د غولولو کوښښ کوي، همدارنګه ښاغلي انور الحق احدي او ځینو نورو برخوالو هم دي ته ورته څرګندوني کړي او ددغه غونډي په یو اړخیز جوړښت او چلند یي انتقادونه کړي .

پیر سید احمد ګیلاني او صبغت الله مجددي دغسي غونډي بي نتیجي بللي او یواځي د یوه لوري په ګټه یي د هغي د څرخولو هڅه ګڼلي ده .

د لورو برخوالو د وینااوو ځیني ټکي سوړ ددي له پاره نه را نقلوو چي ګني هغه د افغانستان د اسلامي امارت په ګټه دي، حقیقت دا دي چي افغانان د خپل هیواد لپاره مستقل او خپلواک نظر لري

پتی پانی

شهرت ننګیال

.و پیښي له نږدي نه څاري او د واقعي حل له پاره په واقعیتونو ولاړي طرحي او نظریي لري.

د بن غونډي متصدي د شمال ائتلاف له نږدي، اندیوالانو څخه دي چي تر پلا له لاندي داویو تیرولو اوږده سابقه لري، ده د همدغسي سازشي چلند له مخي د پخواني پادشاه غاړي ته ورښمیتي زبندي اچولي او د هغه د ځانګړي استازي په توګه یي د هغه سخصیت، او رول هر څه د شمال ائتلاف په تله کي د اچولو هڅه وکړه .

سوړ د لیکني په پیل کي د خبري سرچینو په حواله ولیکل چي د بن غونډه له وخت نه مخکي او بي نتیجي پاي ته ورسیده، معنا دا چي دغه غونډه خامه پاي ته ورسیده او سیرت صاحب د «خام پرتاب کرد» له عملي سره مخامخ شو.

د غونډي په پاي کي ښاغلي سیرت وویل : زه چي د غونډي برخوالو ته ګورم داسي ګنم لکه په بن کي چي وړوکي افغانستان جوړ شوي وي» د ده په وړوکي افغانستان کي له یوه کوره څلور و تنو برخه لرله او د شمال ائتلاف یي دواکداري اکثونه کول ...

د ښاغلي سیرت هیله او ارمان د وړوکي افغانستان دي، دي وړوکي افغانستان ته هوسیږي او دا چي په بن کي یي وړوکي افغانستان لیدلي نو دده له پاره د خوشالي ځاي دي.

خو واقعیت دا دي چي د وړوکي افغانستان خوبونه که هر څوك هر ځاي ویني هغه بي تعبیره پاتي کیږي لکه چي پاتي شوي دي ځکه خو به ښاغلي سیرت هم د وړوکي افغانستان ارمان ته ونه رسیږي.

که ښاغلي سیرت او د شمال ائتلاف هر څو دا ګني چي په شمال کي بي ددوي په وینا وړوکي افغانستان جوړ کړي او خپلو هیلو ته رسیدلي دي خو حقیقت دا دي چي افغانستان یو تاریخي هیواد دي چي نه یي روس وړوکي کولي شي او نه نور یهرني او کورني لاسونه او قدرتونه؛ افغانستان یو واحد ملت دي، تاریخي او قهرمان ملت دي چي خپل ملي یو والي او آزادي به د کورنیو او بهرنیو دښمنانو له توطئو او سازشونو څخه ساتي .

سیرت او ملګري یي نشي کولاي د دغسي غونډو له لاري د خلکو په سترګو کي خاوري واچوي او د لویي جرګي له نوم نه د خپلو ناولو اهدافو په لاره کي ګټه پورته کړي. د بر سپیڅلي نومونه او مفاهیم په ډیره ظالمانه توګه د ډیرو لویدلیو اهدافو لپاره کارول کیږي او ډیر پاك شعارونه ډیرو ناپاکو کړنو اوعملونو ته استخدامیږي چي د بن غونډي د لویي جرګي غږ یي یوه تغذه بیګه ګڼلای شو.

کورنی فقه

پرله پسي — ٤٤ برخه

د سرو او سپینو زرو، وریښمو او جواهراتو د استعمال حکم

د سرو او سپینو زرو او جواهراتو د لوښو او د وریښمو د بستري استعمال

قاضي محمد حسن "حقیار"

د ښځو لپاره د سرو زرو او وریښمو د استعمال حکم

لکه چي وړاندي مو هم وویل د زینت او ښکلا لپاره د سرو زرو او وریښمو حرمت یوازي په نارینه و پوري ځانګړي دي او ښځي د ټولو فقهاء، و په اتفاق سره له دي حرمت نه مستثني دي

اسلام ښځو ته اجازه کړیده چي د خپلي ښکلا لپاره هر روا څیز استعمال کړي او هر قیمت بیه شي څخه کار واخلي.

د سرو زرواو وریښمو استعمال د نارینه و لپاره حرام خو د ښځو لپاره روا دي . د رسول الله «ص» له وخت څخه تر دي ورځي پوري ټول فقهاء، په دي متفق دي چي د سرو زرو او وریښمو استعمال د نارینه و لپاره حرام او د ښځو لپاره روا دي.

مګر یوازیني شخص معاصر شیخ الحدیث محمد ناصر الدین الباني دي چي د سرو زرو استعمال حتي د ښځو لپاره هم روا نه ګڼي . اداب الزفاف في السنة المطهرة - محمد ناصر الدین الباني.

د ښځو لپاره د سرو زرو او وریښمو د استعمال په جواز ډیر دلایل شته دي مثلاً : انس ابن مالك «رض» روایت کوي چي ده د رسول الله «ص» په لور ام کلثوم«رض» د وریښمو سور څادر ولیده . بخاري

ابو موسي اشعري «رض» روایت کوي چي رسول الله «ص» فرمایي : « حل الذهب والحریر لاناث امتي و ...» یعني : « حلال دي استعمال د سرو زرو او وریښمو زما د امت د ښځینه و لپاره او حرام دي په نارینه و یي» نسایي

حضرت عایشه «رض» فرمایي : چي رسول الله «ص» ته نجاشي یو څه ګاڼه دالي ورولیږله او په هغي کي د سرو زرو یوه ګوته هم وه رسول الله «ص» دا ګوته خپلي لمسۍ (د لور) ته ورکړله او ورته ویي فرمایل چي : په دي د ځان ښکلا برابره کړه . فتح الباري

حضرت علي «رض» فرمایي چي : رسول الله «ص» وریښم په ښي لاس او سره زر په کیڼ لاس کي ونیول او ویي فرمایل چي : دا دواړه زما د امت په نارینه و حرام او ښځو ته حلال دي . ابو داؤد، ابن ماجه ، نسایي او مسند احمد

حضرت عبدالله ابن عمر «رض» روایت کوي چي : یوه ورځ رسول الله«ص» بهر راووت چي په یوه لاس کي یي د وریښمو ټوټه او په بل لاس کي یي سره زر وو او ویي فرمایل : « دا دواړه زما د امت په نارینه و حرام او ښځو ته حلال دي» طبراني

او داسي نور ګڼ روایتونه شته چي ښځو ته د وریښمو او سرو زرو د استعمال جواز او ښځو ته یي حرمت ثابتوي.

مشهوره افغان ليکواله، شاعره او اديبه محترمه صفيه "صديقي" له شريعت اوونيزې سره په مرکه کې :

زمونږ د زماني ليکوال بايد د قلم جهاد ته دوام هم ورکړي

کابل ته ددې لپاره راغلې يم چې د خپل هيواد او هيوادوالو دردونه له نږدې وګورم او له ښځو سره د لاسي صنايعو په برخه کې مرسته وکړم

زما په نـــظر بايد هنـــر د ژوند، هنـــر د اســـلام او هـــنر د مـــلت لپـــاره وي

محترمو لوستونکو !
په دې وروستيو کې د ډاکار موسسې : ښځينه ځانګړي رئيسه، پيژندل شوي شاعره او اديبه محترمه صفيه «صديقي» کابل ته راغلې وه چې شريعت اوونيزې ورسره د ښځې او ټولنې د ځانګړې پاڼې لپاره مرکه تر سره کړېده چې لوستلو ته يې ستاسو پام را اړوو.
اداره

پوښتنه : د شريعت اوونيزې لوستونکو ته ځان معرفي کړې ؟

ځواب : زه صفيه «صديقي» د الحاج عبدالرزاق «صديقي» لور او د مولانا عبدالخالق خان «صديقي» لمسۍ يم . د ننګرهار ولايت د سره رود ولسوالۍ د نظر اباد د کلي د يوې ديندار او مجاهدې کورنۍ په لمن کې لويه شوې يم.

دا به مشکله وي چې ووايم له کوم کال څخه شعر وايم ځکه چې شعر هم د يو ماشوم حيثيت لري چې له زېږېدو څخه بيا تر لوئيدو پورې د ژوند لوړې ژورې ګوري او مقام ته رسيږي چې زه هم د خپل شعر د زوکړې په نيټه نه غږيږم مګر له شپيتمو کالو راهيسې يې خپاره کړي لکه څنګه چې هر انسان په ژوند کې مشوق ته ضرورت لري نو زما د ټولنيز او فرهنګي ژوند محسن زما تره زموږ د کورنۍ فخر عبدالسالك جوهر «صديقي» دي دي يو ديني متبحر عالم اوښه ټولنيز شخصيت دي څرګنده ده چې زه د هغوي په برابر کې يوه ذره يم مګر هغوي دا کوښښ کړي چې مدام زما لاس نيوې وکړي زما شعرونه يې هم ستايلي او زه يې تشويق کړې يم .

پوښتنه : کابل ته ستاسو راتللو هدف څه شي دي ؟

ځواب : ستاسو په دې پوښتنې ماته هغه وخت را ياد شي چې کوم دولتي لوړ رتبه مامور بهرته لاړ شي بيا دبيرته ستنيدو سره ژورنالستان پوښتنه تري وکړي چې ددې سفر څخه ستا هدف څه وو ؟! هو حالبه ده چې انسان دې خپل کورته راشي او بيا دې ددې ځواب ورکړي چې ولې خپل کورته راغلې دي .

زه د وطن د يوې حدارۍ بچۍ په توګه او ددې هيواد د يو شاعرې په توګه خپلې اړيکي د خپلې ټولنې سره دومره نږدې احساسوم چې هيڅ کله ترې خپل ځان بېل نشم ګڼلی او کله کله مې زړه ډېر تنګ شي نو وايم چې کابل ته لاړه شم ځکه پاکستان کې د اسارت احساس کوم .

که څه هم چې د لومړي ځل له پاره د حضرت صاحب په وخت کې راغلم دوهم ځل د استاد رباني په وخت کې چې يوه شپه مې وکړه او سبا په تيښته وتښتيدم او بيا مې له ځانه سره ژمنه وکړه چې که وضعه همدا ډول وي نو نور به د وطن نوم هم په خوله نه اخلم. خو کله چې د طالبانو اسلامي تحريك چارواکي تر لاسه کړه نو کيسي نوري او حالات بل ډول شول او مخصوصاً د ښځو په هکله ، په وضعه کې ډېر مثبت بدلون راغی سږکال ډېرو کسانو راته ووېل چې د کابل په ښار کې فقر ډېر زيات شوي که موږ وشو کړاي چې د خپل پروګرام يوه برخه کابل ته انتقال کړو ښه به وي له ښه مرغه دا زما د پاره يوه پلمه شوه چې د ښځو د لاسي صنايعو (د لاس ګنډل) سروي وکړم او په ضمن کې د خپلو خلکو دردونه او کړاونه له نږدې وګورم تر څو زما له پاره د سترګو ليدلي حال وي. ځکه وايي : شنيده کی بود مانند ديده » موږ له وطن څخه لرې يوازې په راديو ګانو اکتفا کړو او له حالاتو نه په مشکل سره خبرېږو.

پوښتنه: ستاسي په نظر په روان انقلابي بهير کې يو شاعر څه رسالت لري ؟

ځواب : زما په نظر افغانستان د مختلفو دورو له امتحانونو څخه تېر شوي دا چې څومره بريالي دي دا نو د وطن ويجاړ توب راته په څرګند ډول بيانوي ځکه د وطن زخمي زخمي تنې په واضح ډول ددي وطن شهامت ښيي د ننګ او غيرت په خاطر او د اسلامي نظام د ټينګښت په خاطر يې لاسي ګوذارونه خوړلي چې کيداي شي په راتلونکو پنځو سو کلونو کې به بيا له ځايه پورته نشي مګر دې ټولو ورانيو له ځانه سره يو پيغام خلکو ته راوړي او هغه اسلامي نظام امن او امشاله دي څه چې د افغانانو ارمان او د خلکو غوښتنه وه . زمونږ د زماني ليکوال بايد د قلم جهاد ته لا هم ادامه ورکړي څو هغه ذهنيتونه چې ترهيدلي دي بيرته سره منسجم کړي او پدې يې باوري کړي چې هر انقلابي بهير له ځانه سره يو توپان لري چې ځيني ورانوونکي دي او ځيني بيا يو تېريدونکي حالت دي او ځيني تخريبي نه بلکي تعميري بڼه لري اوس د افغانانو د اميد سترګي يوازې قلم ته دي چې نه بايد د خلکو هيلي هيري شي.

د استاد رباني په وخت کې يو ځل کابل ته راغلم او يوه شپه مي وکړه حالات ډير خراب وو بيا په تيښته بيرته وتښتيدم او له ځان سره مې ژمنه وکړه چې که حالات همدا ډول وو نو نور به د وطن نوم هم په خوله وا نه خلم

پوښتنه : تر اوسه مو کوم فرهنګي خدمتونه تر سره کړيدي ؟

ځواب : دوه شعري مجموعي لرم لوېته او نالوستی کتاب يوه انګليسي ترجمه مي چاپ شويده او نا چاپه شعري مجموعه مي له شنه اسمانه باران توميږي.

تيزوږي داستاني مجموعه، په ديدنونو بنديز سفرنامه ، د ګلپاڼو پټي: د ټوکو مجموعه، او د هيلي مجله چې په هرو دو مياشتو کې خپريږي.

پوښتنه : له شعر ويلو نه ستاسو هدف څه دي ! آيا هنر د هنرلپاره که هنر د ژوند لپاره که هنر د اسلام او ملت لپاره ؟

ځواب : لکه څنګه چې پوهيږو شعر ويل يوه هنري پديده ده او په ابتدا کې هر شاعر چې شعر وايي نو لومړني جوړښت يې په عشقي ملحوظاتو دي خو ورو ورو شاعر (که شاعر شي) ځکه مي دا خبره وکړه چې د ځواني په لومړنيو مراحلو کې يو ګڼ شمير ځوانان د شعر ويلو په مرض اخته کيږي بيا کله چې خپل هدف ته ورسيدل نو شعر ويل پريږدي يو نيم په کې ليوني پاتې شي . ځکه په پيل کې د شعر ويلو هدف هماغه عشقي تنده ماتول دي دا ځکه وايم چې اکثره خلکو د شعر ابتدا له عشقي شعرو څخه کړي ده . ځکه نو يو څرګند هدف نه لري خو که دوي يا دا شاعران پاتې شول نو خپله لاره په څرګند ډول ټاکلې شي چې زما هدف هنر د ژوند له پاره او هنر د اسلام او خپل ملت د پاره دي ځکه زما په نظر هره ټولنه خپل خپل ټولنيز جوړښت لري چې زموږ افغاني ټولنه هم په اسلامي بنسټونو جوړه ده ځکه نو دا هغه اصل دي چې زمونږ ټني شاعر يې بايد له پامه ونه باسي . فروغ فرخزاد وايي : شعر د ژوندانه يوه برخه ده هيڅکله نشي کيداي د ژوند د نفوذ د دايرې څخه بيل شي کوم چې انسان ته واقعي ژوند ور په ګوته کوي، هو زموږ ټني شعر بايد هغه شعر وي چې زموږ د زماني او مشکلاتو ځانګړني ولري.

پوښتنه : تاسي د کابل ښار بيلا بيلې برخې او د اسلامي امارت تر کنترول لاندې سيمې وليدلې ستاسو تأثر څه دي ؟

ځواب : زما هدف کابل ته د راتلو دا هم وو چې د خپل وطن او وطنوالو درد ونه له نږدې ووينم چې ددې ليدنې مکمل تصوير به زما سفر نامه کې انشاء الله وګوري مګر په لنډيز سره ويلې شم چې : کابل بواځې زخمي زخمي او هغه ټپي شوي بدن ته ورته دی چې د ټپي ايښودو ځاي يې نه دي معلوم ځکه دا د انسان له تصور څخه د باندې دي چې په داسې زخمونو ټپي او ملهم کيږدي. د افغانستان دښمنانو هر ورځ تارې او سورې جوړې کړي چې که طالبان چارواکي نشي تر سره کولای نو ملت دې نه نيا کوي، خو زه وايم طالبانو ته کابل د يو تيرې المـه باني ده چې په سياسي، فرهنګي ، ټولنيز او اقتصادي لحاظه دومره بې بنسټه شوي چې په راتلونکي شلو کالو کې هم جوړيدونکي نه دي طالبانو تحريك خداي د کابل د ښار يانو د ژغورنې له پاره مامور کړي او پاتې شوه د آسانتياوو برابرول دا نو هر با بصيرته انسان وينې چې خالي لاس دشمن دي، په دې خبره کې څه پاتې دي چې خلك له طالبانو ګيله من دي.

پوښتنه : تاسي د يوې شاعرې، اديبې او با سواده ښځې په توګه افغاني ښځو ته څه پيغام لرئ ؟

ځواب : زما په نظر افغاني خويندې بايد خپل صبراو استقامت له لاسه ور نه کړي ځکه دوي د انقلابي بهيرونو شاهداني دي چې هر بدلون له ځانه سره يو نوي پيغام لري او بل دا چې بايد هم هر بدلون خپل خپل ضوابط او مقررات ولري څو په ټولني خپل قوانين تطبيق ورکړي د خپلو اصولو د بقا په خاطر هر حرکت بايد نوي نوي قوانين ولري خو ځيني يې مطلقا ټولني د بربادي په لور بيايي او ځيني بيا په جدي قوانينو ټولنه له بدبختي څخه ژغورلي هم شي هيله لرم هغه په اصطلاح شکر رنجي چې د ځينو افغاني ميرمنو او د طالبانو د تحريك تر مينځ موجودي دي له مينځه لاړې شي او هيله لرم چې په نږدې راتلونکې کې به د طالبانو د تحريك تر مشرتابه لاندي د افغانستان وګړي پرته له ويرې ټولنيز ژوند مخ په وړاندي يوسي.

پوښتنه : تاسي د شريعت اوونيزې د يوې دايمي لوستونکې په توګه د شريعت اوونيزې د خپرونيز بهير په هکله څه نظر لرئ؟

ځواب : تقريباً ډيره موده کيږي چې زه د شريعت وزينه اوونيزه لولم سره له دي چې يو سياسي اوونيزه ده او د طالبانو د تحريك نماينده ګي کوي او اکثره خلك په دي عقيده دي چې سياسي خپروني د خپلو اهدافو د څرګندولو له پاره خپريږي زما په نظر شريعت د طالبانو د تحريك او د افغاني ټولني د ټولنيز، اقتصادي، فرهنګي، کلتوري ژوندانه يوه پوره هنداره ده . د واقعيتونو څرګندويه او د اسلامي شعايرو بيانونکي ده. زه د لوي خداي«ج» څخه په وطن کې د امن سولي، ورورولي او اسلامي بيرغ د اوچتوالي غوښتنه کوم او تاسو ته د اوږد عمر او لا برياوو هيله لرم.

پر ديدنونو بنديز

صفيه «صديقي»

کله چې ستا په ديدنونو بنديز ولګيده — زما د زړه په ارمانونو بنديز ولګيده
ما د غوټي د سپړيدلو انتظار کولو — چا راته وې په بهارونو بنديز ولګيده
څو چې زما د ليونتوب دوره ايله رسيده — دلته په څيري ګريوانونو بنديز ولګيده
ارمان ارمان د ځواني فصله چې دې پای ورسيد — اوس، د ګلونو په لوټو بنديز ولګيده
ستا بيوفا کلي جانانه په منزل سترې کړم — د محبت په يادګارونو بنديز ولګيده
يو څپ څپې دي د ښکالو دي خو تا چيري وينم — توبه توبه ستا په لوظونو بنديز ولګيده
جانانه راشه که راځې نو انتظار تر کومه — بس د ځواني په خمارونو بنديز ولګيده
جانانه تا به چيري هم د چاوه لار څارلي — اوس په ديدن د سرو ګلونو بنديز ولګيده

بس په کنګل کنګل بدن څمه د لمر ترکلي
چې په تا پايه اميدونو بنديز ولګيده

زن و جامعه



زنان و دختران و رشد اجتماعی آنها

خداوند «ج» به زنان همچو مردان حق سهيم شدن در امور اجتماعي را داده است و يك جامعه هم زماني به شاهراه پيشرفت و ترقي گام بر ميدارد كه زنان و مردان همان جامعه دوشادوش هم مطابق توانايي خويش در چوكات شريعت اسلامي و ايجابات سالم عنعنات ملي در تعالي و تكامل جامعه قدم بردارند .

جامعه ما از قرنها به اينسو از جانب نيرو هاي استعماري ، عقب نگهداشته شده است و مسأله عقبمانده گي زنان و دختران مانند عقبمانده گي ساير بخشهاي جامعه موضوعي است كه پرابلم هاي زيادي را در جامعه، امروزي ما به بار اورده است .

سوال اساسي اينجاست كه چگونه ميشود زنان و دختران جامعه خويش را تنوير نماييم و اين پرابلم عمده را از سر راه تكامل جامعه خويش برداريم.

در اين مورد شايد طرحهاي متعددي وجود داشته باشد كه هر يك مدعي آن باشد كه ميتوانند در رفع اين پرابلم موثر واقع شوند.

اما از نظر ما يكي از معقولترين طرحها، در زمينه رشد زنان و دختران جامعه ما رشد خانواده است ، چه خانواده نخستين سنگ بناي جامعه به شمار ميرود . تا زماني كه خانواده ها در جامعه رشد سالم نكنند رشد افراد جامعه اعم از زن ، مرد، پسر و دختر به صورت درست و اساسي محال ميباشد.

رشد خانواده در جامعه مسأله مهم و اساسي است كه خدا«ج» و پيامبر بزرگوار اسلام به آن تاكيد زياد مينمايند؛ زيرا نخستين مأمن امن و آسايش انسان خانواده است. اگر خانواده ها در يك جامعه از رشد سالم بر خوردار باشند خود بخود رشد جامعه را باعث ميگردند، زيرا همين افراد خانواده هاست كه به سهم خويش رشد و تكامل و تعالي جامعه را سبب ميگردند.

اما اگر بدون توجه به رشد و تكامل ابعاد مختلف خانواده كه در بعد فردي افراد اثر بخش ميباشد، از رشد اجتماعي افراد ، از جمله زنان و دختران صحبت به عمل آيد نه تنها كار مفيد در جهت رشد زنان و دختران صورت نگرفته، بلكه اثرات خيلي ناگوار و منفي بر شخصيت آنها نيز به جا ميگذارد.

كمونيستان در طي چهارده سال حكمراني ناكام خويش بر جامعه ما تمام ابعاد جامعه از جمله خانواده ها را مورد ضربات بيرحمانه قرار داده بودند كه متاسفانه تا الحال هم اثرات سؤ آن، روان جامعه، ما را مي آزارد.

كمونيستان به شكل آگاهانه خانواده را يك نهاد عقبمانده و خرافي به شمار مي آوردند و چنان وانمود ميكردند، كساني كه از خانواده صحبت ميكنند و يا وابسته گي خود را به آن نشان ميدهند و تعليمات خانواده گي را ارزش مينهند، افراد عقبمانده و مرتجع هستند.

يكي از تعليمات ناقص آنان به زنان و دختران جامعه ما هم همين بود كه خود را به اصطلاح از قيودات خانواده گي برهانند و مستقيماً در امور اجتماعي سهم بگيرند،

آنعده زنان و دختراني كه به حرفهاي پوچ و ميان تهي كمونيستان باور كردند و مطابق هدايات آنها بر بنياد خانواده پشت پا زدند، نه تنها در امور اجتماعي موفق نبودند، بلكه در امور خانواده خويش نيز افراد عقده يي و بيمار بار آمدند و تا الحال نتوانستند آن تضاد جامعه و خانواده را بر طرف نمايند.

در حاليكه اگر قوانين و مقررات جامعه بر اساس فرامين الهي پيريزي گردد، بايد در آن به هر نهاد جامعه از جمله خانواده توجه صورت گيرد و در جهت رشد آن كوشيده شود، بناءً افراد چنين جوامع به پرابلم هايي كه نظامهاي فاسد نظير كمونيستان مبتلا بودند، سر دچار نميگردند، ووقتي چنين افراد از جمله زنان و دختران وارد امور اجتماعي ميگردند خود را جزء جامعه و همكار و همبار جامعه دانسته با احساس مسووليت به كار هاي اجتماعي ميپردازند و در نتيجه تضاد ميان جامعه و خانواده از ميان رفته و جاي آن را هماهنگي و همكاري ميان خانواده و جامعه ميگيرد.

بناءً ما باور به اين داريم كه براي نيل به جامعه مرفه و سعادتمند در آغاز بايد خانواده ها را رشد داد و از طريق رشد خانواده، زنان و دختران را تكامل داد و پس ازآن وارد جامعه اش ساخت.

د افغاني مېرمنو په شعر کې د معارف هيلې

محققه ساهره ګډران

څرنګه چې شعر د هري زماني د حالاتو او خاصو شرايطو محصول، څرګند تصوير او انعکاس دي همدارنګه شاعران د خپل ماحول او زمان د پيښو، اړتياوو او غوښتنو منعکس کوونکي دي. چې له نيکه مرغه زموږ افغاني ښځينه شاعرانې په دغه برخه کې له نارينه وو کمې نه دي او په خپلو حماسي، دردناکو هيواد پالو شعرونو کې يې د خپلې ټولنې د بشپړې او دايمي پر مختيا له پاره د ښځينه معارف رواجولو، ودې او انکشاف هيله داسې کړې ده :

نوميالي شاعره الف جان خټکه افغانان د معارف روښانه جهان ته رابولي او وايي :

ويښ شه او ويښ کړه معقوله واوره عمل پرې وکړه
مطلب مي دادي چې هم لوله هم نادان لوله وه
ستاسې ښوب خلق د علم په ميزان کې تلي
خپل درانه وخت د پاره ورونه عزيزان لوله وه

همدارنګه يو بله نوميالي اديبه او شاعره محجوبه هروي د وخت له واکمن څخه د معارف غوښتنه د شعر په ژبه داسې کوي او وايي :

دارم اميد از خداي جهان
وز مساعي شهر يار جوان
که معارف فزون شود به وطن
عالم از نور آن شود روشن
اعتلايي دهد دبستان را
ارتقايي گروه نسوان را

خو د هيواد يوه بله نوميالي شاعره «نګينه» پرته له هر ډول ترس او وېرې په خپل نقادانه او فريادي شعر کې خپل قوم ته داسې خطاب کوي او وايي :

بل د ښځو دښمن نه شته خو پښتون دي
که هوښيار دي خو زموږ په حق مجنون دي
زموږ لاس ، پښې، دماغ واړه مختل دي
جبراً کړي پښتنو زموږ خون دي
د تعليم سترګي زموږه داسې ړندې دي
هيڅ يې نه پيژنو دال دي او که نون دي
[illegible]
که له موږ قومي خدمت پيښتنه غواړي
تعليمي پهلو زموږ ولې زبون دي ؟

هرګورا د رښتيا خبره ده، چې هر ملت په معنوي لحاظ په معارف او د ټولني په پوهو افـــرادو پاندي ژوندي دي او يوازي د معارف په رڼا کې کيداي شي چې يو ملت خپل سياسي، اقتصادي او ټولنيز ژوند ته سمون او دوام ورکړي. افـغاني مـيرمنې چې زمـوږ د ټولنې نيمايي برخه جوړوي او د ماشوم د پالني ، ښوونې او روزنې لومړنۍ مدرسه ده څرنګه کيداي شي چې د معارف له ستر الهي نعمت څخه بې برخې شي او زموږ د ټولني نيمايي بدن له کار او فعاليت څخه ولويږي ؟ د دې له پاره چې د افـغانانو بدن سالم او غښتلي پاتې شي او دا ملت په ژوندیو او سیالانو کې ژوندي او سیال وګڼل شي، نو راشي چې د اسلام د ستر مبارز او د شرق د نابغه سید جمال الدین افغان لارښوونکو خبرو ته غوږ شو : « زما په فکر که ټول نارینه تعلیم یافته هم وي د ښځو د تعلیم د نشتوالي په صورت کې به ملت لکه څرنګه چې لازم دي يوازي يو نسل ژوندي پاتي شي.» وګوري سید جمال الدین افغاني پیښواي انقلاب شرق ، ۴۶مخ.

افغان ليكوال محترم عبدالمحمد "مموزي" له شريعت...

موده كي د پاكستان له ځيني ورځپانو لكه (جنګ، نواي وقت، حريت) سره قلمي همكاري لرله. اوهم به كله كله د مجاهدينو له ګروپونو سره د هيواد د ننه ته تلم او د جهاد او مجاهدينو حماسي او تاريخ به مي ليكل. له هغه وروسته د ځيني معاذيرو له كبله المان ته ولاړم او هلته مي د يو آزاد اخبار په ليكنه اوخپرونه (بولټن سنګر) په نامه پيل وكړ.

پوښتنه : ستاسي په نظر د ځنو جهادي زعامتو د انحراف عوامل څه شي وو ؟

ځواب : د دوهم سوال په ځواب كي كيدلي شي يوه رساله وليكل شي خو زه به په ډيره مختصره او مؤجزه توګه عرض كړم چي : كله كمونستان د روسانو په ملاتړ قدرت ته ورسيدل نو د افغانستان مسلمان او قهرمان ولس چه د كمونستانو له كرغيړنو ځيرو او دا چي دوي د روسانوګوداګيان او د اسلام وطن او پرګنو دښمنان دي له پخوا څخه اشنايي درلوده نو په وسله وال جهاد او پاڅون يي پيل وكړ.

د دوي اصلي او اساسي هدف د اسلام، وطن او د مسلمانو پرګنو د مال ځان او ناموس ساتنه وه او البته د افغانستان مسلمان او قهرمان ولس نه يواځي د روسانو په مقابل كي بلكه د تاريخ په مختلفو پيړيو او كلونو كي د هر تيري كوونكي يرغلګر په مقابل كي دا قرباني وركړي ده چي د ګران هيواد افغانستان وياړلي تاريخ د دوي په شهامت، غيرت او حماسو شهادت وركوي خو په دي كي هم شك نشته چه د تاريخ په مختلفو پيړيو كي چه ګوم غورځنګونه او جهادي قيامونه مېنځ ته راغلي ځيني مسلمانو او ملي شخصيتونو او قهرمانانو لكه (ميرويس نيكه ، احمد شاه ابدالي محمود هوتك، او ځيني نورو مسلمانو رهبرانو لكه (محمد جان خان، ملا مشك عالم ، سيد جمال الدين افغان ، ملا نجم الدين، خوشحال خان، عجب خان، ايمل خان) او په دي ترتيب په سل هاو نورو رهبرانو او زعيمانو په جهاد او پاڅون كي ستر رول درلود، خو دوي سره د كاذب شهرت هيڅ فكر او انديشه نه وه ، دوي د ولس او پرګنو له منځ څخه راوتلي او ټول ملت يي تر شاو لاړ وه همدا سبب ده چه دوي په پاكه عقيده شهيدان او تاريخي نوم يي وګاټه، خو له حقيقت څخه سترګي نه شو پټولي چي ځيني زموږ جهادي زعيمان او رهبران اصلاً او اساس د ولس او پرګنو له مېنځ څخه نه دي راوتلي ، دمثال په توګه : څوكاله مخكي د روسيي په يوه اخبار كي د كاجي بي د يوه رئيس له خولي يو مطلب خپور او په هغه كي په صراحت سره وليكل شول چه احمد شاه مسعود په ۱۹۸۳ كال كي رسماً زموږ د كا جي بي غړي او مصارف يي ديوه تاجكستاني په ذريعه وركول كيدل او دا مطلب د حزب اسلامي اخبارونو او ورځپانو په هغو كلونو

كي چي د حزب او جمعيت تر مېنځ اختلاف او تضاد موجود وه په ډير صراحت او په تكراري توګه خپور كړ او احمد شاه مسعود د جهاد په كلونو كي د جهاد تر عنوان لاندي د سالنګ لويه او صعب المروره لاره د روسانو پر مخ خلاصه پريښوده او څه مودرني وسلي او سري لښكري چه په دي لاره راغي د هيواد په جنوبي ، ختيځ او لويديځ سيمو كي يي داسي خرابي او جنايات وكړل . چه په تاريخ كي ساري نه لري ، او په هره ترخه او پرښه ګولي ولګيدي همدا سبب دي چي د هاليند يوي ورځپاني ليكلي دي چي يواځي د نجيب په وخت كي (۲۵۰) اسكادونه د هيواد په جنوبي او ختيځو سيمو لږيدلي دي حال دا چه صدام د خليج په جګړه كي څو سكادونه اسرائيلو ته وشړل خويه دنيا كي سخت تنفر او انزجار پيدا او ژربي پتروس د سكادو د ختني كيدو لپاره نصب كړل . لنډه دا چه اوس هم همدا څش په نامه زعيم د روسانو په خدمت كي او د هغوي د خوشحالي لپاره د افغانستان وګړي وژني ، له روسانو څخه وسله اخلي هندي او روسي مشاورين ورسره كار كوي، په همدي ترتيب استاد رباني د خپل قدرت ساتلو په مقصد او د خپلي خو د خواهيو او شهرت طلبيو په غرض څخه خاينانه او مضحكانه سياسي لوبي نه وي چه وي نكړي، او حتي په كنفرانس كي يي وويل چه روسان د افغانستان په يرغل كي ملامت نه دي ، حكمتيار د دوي پر ضد د اسلام تر عنوان لاندي وسله واله جګړه پيل كړه خو بيا لنډه دا چه دا تش په نامه زعيمان او رهبران د ولس او ملت څخه نماينده ګي نه شي كولي او د دوي زياترو لاس يو ځاي او فكرونه او انديشي يي بل ځاي بندي دي نو مونږ د دوي د انحراف عوامل په لاندي ټكيو كي خلاصه كولي شو :

۱- د قدرت او شهرت تږي توب ۲- د روپيو پيداكول په عيش او عشرت مينتوب ۳- په بهرنيو قدرتونو تكيه او تماسونه ٤- داخلي جګړو او د نفاق او اختلاف او رونو ته پكي وهل ٥- د مسلمان ولس غوښتنو ته اهميت نه وركول ٦- ښكاره بي عدالتي او ټول نفوذ او قدرت په خپلو مېنځو او خپلوانو كي ساتل ۷- د جهاد تاريخ سوځول خو په خپله او د دوي خپلوان ورڅخه په فرسخونو تښتيدل ۸- په يوه فكر او عقيده نه دريدل، صفقتونه ۹- په داخلي جګړو كي په سل هاو تنه وژل خرابي، او هيواد دښمني لوټول او داسي نور .

پوښتنه : ستاسي په نظر د شمال مؤتلفين د كومو ګټو په خاطر په داسي ائتلاف كي چي زموږ د افغاني هويت او اسلامي روايت سره كاملاً ټكر لري راغونډ شوي؟

ځواب : د جهاد په پيل كي په افغانستان كي دوه صفونه يا دوه مخالف سنګرونه او مورچلونه موجود وه چه يوه خوا يي مجاهدين او بله خوايي كمونستان وو ، خو ځيني تش په نامه مجاهدينو په پټه كي له كمونستانو سره اړيكي درلودي او ساپي زياتره سلل او عامل يي ژبني، قومي، سمتي، او مذهبي علتونه وو او دا حقيقت د مزار شريف په اتحاد كي چه د (اتحاد نا مقدس) په نامه [illegible] زياتره څرګند شو. ځكه په هغه اتحاد كي شوراي نظار، پرچميانو ، هزاره ګانو او ځيني نورو اقليتو ډلو استازو ګډون وكړ او [illegible] فيصله وكړه چه له دي وروسته [illegible] د هيواد اكثريت يعني پښتنو [illegible] موقع ورنه كړو چه بيا پر موږ حكومت وكړي دوي څو سوه كاله پر موږ حكومت كړي او [illegible] زموږ وار او يا نوبت دي [illegible] كله چي په وروستيو كلونو كي د مجاهدينو [illegible] د رباني په مشري مسكو ته ولاړ او هلته يي پټي معاهدي لاس ليك كړي [illegible] حقيقت كي دوي د مزار د اتحاد نامقدس د كرغېړنو اهدافو د پرمختګ لپاره د روسانو مرسته [illegible] لاسه كړه . چه تر اوسه په مختلفو شكلونو او نيرنګونو دوام لري. او همدا سبب وه چه مسعود به ويل چه په كابل كي به داسي وخت راشي ، كه چه كه د ستاسو د كور دروازه ټك ټك شي وا يو نوري چه څوك وواي چه (څوك يي) او حتي د پوهنتون كلمه يي دانشكاه كړه، د پښتو كتابونه يي وسوځل او تروسه [illegible] يي زيار ايست چه پښتانه له صحنې څخه تجريد شي. په لنډه توګه د مؤتلفينو ګټي په لاندي جملو كي خلاصه كولي شو :

۱- شوراي نظار او جمعيت ددي لپاره چه د خپلو اهدافو او مقاصدو لپاره چه زياتره يي په ژبني سمتي او نژادي سنګرو تكيه درلوده قدرت تر لاسه كړي نو له پرچميانو سره يو ځاي شول. او پرچميانو د نجيب په وخت كي د روسانو په امر د مسعود لپاره د دفاع د وزارت څوكي شپږ مياشتي خالي پريښوده خو مسعود د مجاهدينو له ويري ونه شواي كولي چي كابل ته راشي نو بيايي په ځاي ئې مقرر شو. شوراي نظار او جمعيت فكر كاوه چه د كمونستانو له ملاتړ نه پرته دوي هيڅ نه شي كولي.

۲- د هزاره ګانو ډلي هم كه څه هم د مذهب له پلوه له شوراي نظار [illegible] جمعيت سره تضاد او مخالفتونه [illegible] لري [illegible] دا چه دوي هم په افغانستان كي [illegible] اقليتونو په [illegible] راځي [illegible] هغوي [illegible] شوراي [illegible] جمعيت ته نژدي بولي.

۳- هزاره ګان د ايران [illegible] كيږي او د هغوي له خوا حمايه كيږي [illegible] په وروستيو كلونو كي ايران د روسانو پلوي هيواد او حتي ايران له ټولو اقتصادي او سياسي پرابلمو سره

سره د روسانو ټرپش زره عسكرو ته چي د تاجكستان په خاوره كي د افغانستان سرحد ته نژدي پراته دي د طالبانو د اسلايم تحريك په ضد د فعاليت ټول لګښتونه په غاړه اخيستي او هغوي د طالبانو پر ضد تقويه كوي، او د هزاره ګانو ډلي ټيلي هرو مرو له دي سياست څخه پيروي كوي.

٤- روسانو كله چي په خلقيانو كي د افغانستان په غرونو او ګړنګونو كي سركونه جوړ او هغوي يي د بلدوزر په توګه استعمال او له ملت سره يي مخالف وګرځول او بيا يي په هغو سر كونو پرچميان او روسان راوستل او هغوي يي له صحني څخه وشړل نو هغوي مجبور شول چي د ژبي ، قوم او يا سمت په لحاظ هغو تنظيمونو ته ولاړ شي چي له دوي سره څه نا څه نژدي والي لري او هغو تنظيمونو هم د خپلو ګوندونو د تقويي او يا د وسلو تر لاسه كولو په مقصد هغوي ته غيږ خلاصه كړه او همدا سبب وه چه جناب مجددي صاحب دوستم ته د خالد بن وليد لقب وركړ او هغه كمونست او د كا جي بي غړي يي په داسي كلمانو وستايه چه د هر مجاهد لپاره سپكاوي وه .

تعرض مشترك مليشه هاي...

متقبل شدن تلفات سنګين جاني و خسارات هنګفت مالي مجبور به عقب نشيني شده است. اين دومين تعرض همزمان شوراي نظار و مليشه هاي خليلي است كه در جريان يك هفته گذشته صورت ميگيرد و به ناكامي و شرمساري دشمن انجاميده و آنها با بجا گذاشتن كشته و زخمي پا به فرار مي نهند و مجاهدين اردوي اسلامي مستقر در آنجا با كسب نصرت الهي با مورال قوي ترو باور كامل به الطاف يزدان صفوف شان را فشرده تر ساخته از سنگر ها و منطقه شان جسورانه دفاع مينمايند و مصمم هستند تا دشمنان را نابود و امنيت مطمين را تامين نموده در راه انفاذ شريعت غراي محمدي «ص» دين اسلامي شانرا ادا نمايند.

سنگ تهداب يك باب مدرسه ...

تدوير گرديده بود محترم الحاج مولوي [illegible] الحكيم حقاني والي ولايت ميدان [illegible] در رابطه به اهميت كسب علوم [illegible] دين [illegible] اسلام صحبت نموده و حاضرين را به آموزش علم و دانش تشويق و ترغيب نموده مدرسه متذكره به همكاري مردم مسلمان آن ولسوالي اعمار ميگردد.

په فارياب كي د سولي او امن ځلاند ...

حتي دښمن مجال ونه مونده چي تيښته وكړي او خپل جګړه ييز تخنيك او ثقليه وسايط له ځانه سره يوسي »

هو، د طالبانو ددغي ستري فتحي په پايله كي چي دښمن او د هغه نړيوال ونډوور چي راديوګانو نه غوښتل چي پري اعتراف وكړي، د فارياب ولايت او د ميمني ښار څيره بدله كړيده. اوس دلته د بد امني او جګړي ځاي سولي او امنيت، د بي باوري او دښمني ځاي، باور او دوستي، د درد او غم ځاي، هوسايي او نيكمرغي او د [illegible] ځاي موسكا او خندا نيولي. په يوه حمله كي چي هر څه خوشاله او هيله مند ښكاري.

مونږ ددي شاهدان و ، كله چي طالبان د ميمني ښار د بيلا بيلو سيمو خلكو ته د مرستي لپاره ورتلل، د ميمني خلكو ته د په دانسونو باندي د ګلانو په پاشولو او د هغوي غاړو كي د ګلانو د امېلونو په اچولو سره هغوي ته ښه راغلاست وايه. د طالبانو څخه دميمني د خلكو د دومره ډير هركلي وجه دغه ښار يو تن مخور اوسيدونكي محترم غلام نبي دهقان داسي بيان كړ : « زموږ زوريدلي خلك خو ځكه په خپل ولايت، كور او كلي كي د طالبانو څخه دومره ډير هركلي كوي چي د هغوي پت او عزت، سر او مال چي د جنرال پهلوانانو او توپكيانو له خوا هره وخت پري تيري كيده، په امان او خوندي شو دا كوم دروغ او افترا نده، د طالبانو د راتګ څخه

مخكي دلته هيڅ د خپل زوي ، لور او مال اختيار نه درلود او توپكيانو چي هر ډول نادودي كولي، هغه يي كولي او څوك نه و چي د هغو مخه يي نيولي واي »

د سترو ، بي شميرو غنايمو په څنګ كي چي طالبانو د فارياب ولايت په بيلا بيلو سيمو كي د دښمن څخه نيولي دي، نژدي زر تنه اسيران يي هم نيولي دي چي د عاليقدر امير المومنين د فرمان سره سم د هغوي سره ډير ښه سلوك كيږي. د ميمني د ښار د عمومي جيل خاني قوماندان دګرمن محمد عابد چي ددغو اسيرانو په د له كي دي، د خپلو تيرو عملونو څخه د پښيماني په څرګندولو سره وايي : « د مليشو په ليكو كي د خدمت له امله شرميږم او د خجالت احساس كوم. ځكه د هغوي ټول كړه وړه د اسلاميت او انسانيت په ضد وو هغوي ددين طالبان په دي جرم باندي چي په وطن كي سوله او اسلاميت ټينګوي، په ډيري بيرحمي سره شهيدان كول او بيايي په ځا كي لوي اچول .

ددي سره سره چي د مليشو له خوا د طالبانو په وړاندي دا ډول زړه بګنوونكي چلند شوي وو، خو طالبانو زموږ سره ښه چلند كوي، سمه ډوډي راكوي او غمخوري مو كوي او نو له دي امله زه د وخت څخه په استفادي سره ټولو هغو كسانو ته چي په خطا سره د مليشو په ليكو كي پاتي دي، دا

وايم چي ژر تر ژره دي د هغوي له ليكو څخه جلا شي څو دنيا او اخرت دواړه يي خرابه نه شي »

د اسيرانو له خبرو څخه دغه واقعيت هم څرګند شو چي د مليشو سروالان ځوانان په زور او جبر سره د جبهو ليكو ته استوي چي دغه ځوانان د غزاري د طالبانو سره وجنګيږي او كله چي مجال مونده كړي، نو طالبانو ته تسليميږي.

د ډيرو پوځي تجهيزاتو وسلو او مهماتو څخه چي ددغو بريااليو عمليانو په ترڅ كي نيول شوي زياتره يي د ايران هيواد د جوړېدو مارك درلود چي دا د افغانستان د اسلامي امارت سره د ايران هيواد ددښمني انكار نه منودونكي نښي نښاني دي.

دغه راز موږ د ميمني په ښار كي د خپلي هستوګني په وخت كي د ميمني ښار شمال خوانه د جمعه بازار په لوړ، چيري چي د اسلامي اردو د [illegible] لومړي كرښه وه، هم ولاړو او هلته موږ د طالبانو د يو شمير تنګياليو سره چي د الله «ج» په لاره كي د قرباني لپاره تل چمتو دي وليدل او خبري اترې مو ورسره وكړې چي د هغوي د اوچتو روحيو څخه دا ډاګ را پيدا شو چي دغه ښار زلمي كه تجربي اتر ورته وشي د دفاعي دندو پرسيره ، تعرضي برياوي ددي هم په چټ تر سره كولي شي.

د لومړي كرښي مسوول [illegible] د هرات د

ځلورم تنير قول اردو اتل قوماندان محترم الحاج ملا عبدالسلام مجاهد د جهادي دندو د اجرا لپاره د خپلو طالبانو چمتو والي داسي څرګند كړ : « زموږ تنګيالي او له سره تير طالبان همداسي چي په اتلولي سره يي د فارياب ولايت او د ميمني ښار فتح كړ، لوړ جګړه ييز احضارات لري چي په دغه سيمه كي د دښمن ټولي توطيي په اوبو لاهو كړي. لكه څنګه چي څو ورځي مخكي هغوي د خپلو ټولو پوځي امكاناتو څخه په استفادي سره زموږ په خط باندي يو غلچكي بريد وكړ چي زموږ اتلو طالبانو او مجاهدينو د بيساري مقاومت او اتلولي په ښودلو سره د دښمن حمله په شاه وتمبوله او درانه تلفات يي ورواړول.

دغه راز غواړم څرګنده كړم كه چيري د الله «ج» رضا وشي نو مونږ په به الهي نصرت سره د هغوي ځاي څخه د شمال پاتي سيمي هم فتحه كړو . »

متين يوسفزي

د شريعت تبصره

تعرضات پيهم مليشه ها با شكست هاي مفتضحانه مواجه گرديد

سراسيمگي و تشتت در صفوف مليشه هاي باغي بعد از فتوحات برق آسا و حيرت انگيز اخير مجاهدين اردوي اسلامي در ولايات فارياب، تخار، بغلان و كاپيسا به حد اعظمي آن رسيده ، سران گروهك هاي مليشه و حاميان بيروني شان از وارخطايي زياد ديوانه وار عوض آنكه در فكر استحكامات و بسيج قوت هاي پراگنده خويش گردند، دست به يك سلسله تعرضات و حملات بيشرمانه بر مواضع و خطوط مقدم جبهات اردوي اسلامي زدند. حملات اخير گروه هاي باغي كه از حمايت نيرو هاي هوايي دشمنان اسلام و افغانستان بر خوردار بوده نشان داد كه حركات جديد نظامي دشمن عكس العمل خود شان نبوده، بلكه هدايت و فرمان آقايان خارجي شان بود كه با وعده هاي حمايت نيروي نظامي و قرار دادن مبالغ هنگفت مالي در اختيار سران مليشه ها ، آنها را مجبور به تعرضات ديوانه وار بالاي مناطق تحت كنترول امارت اسلامي افغانستان ساخت. همچنان گسيل مقادير فراوان اسلحه و تجهيزات جديد نظامي توسط طيارات خارجي به شمال افغانستان نيز شاهد اين مدعا ميباشد كه در حركات اخير نظامي مليشه ها دست هاي اجنبي رول كليدي را بازي نموده است.

طبق اطلاعات، با آنكه در همه محازات نيرو هاي مليشه به شكست مواجه گرديده همه ولايت فارياب ، چندين ولسوالي در ولايت تخار و ولسوالي اله ساي و مناطق زياد ولسوالي نګاب ولايت كاپيسا توسط مجاهدين اردوي اسلامي از چنگال دشمن ازاد گرديده و لازم بود تا سران مليشه ها سر در گريبان كرده و از تداوم جنگ دست بردارند، اما بر خلاف ديده شد كه جنگ افروزان باغي به تعرضات پيهم و متداوم بر ولسوالي هاي اشكمش و دره بنگي در تخار، ولسوالي بوركه در ولايت بغلان، منطقه ستراتيژيك جمعه بازار در فارياب دست زده و اخيراً حملات وسيعي را بر ولسوالي غوربند ولايت پروان به راه انداختند كه الحمد لله همه اين تعرضات به نصرت الهي و پايمردي مجاهدين مومن اردوي اسلامي با شكست هاي قطعي مواجه گرديده تعداد زياد از افراد دشمن به شمول چند تن از جنرالان و قوماندانان آنها كشته شده و تعداد زياد اسلحه و وسايط حربي آنها توسط مجاهدين به غنيمت گرفته شده است. سران مليشه ها ميخواستند تا با بسيج و براه اندازي حملات اخير شان نشان دهند كه آنها توانندي و قابليت جنگي خويش را محفوظ داشته اند و از جانب ديگر به اميد اينكه اگر فتحي نصيب شان گردد و در نتيجه افراد مورال باخته شانرا از اين طريق دو باره روحيه و قوت بخشيده و براي جنگ هاي بعدي آنها را اماده سازد : اما الحمد لله كه شكست هاي مفتضحانه انها نشان داد كه آخرين تلاش هاي دشمن نيز نقش بر آب گرديد .

با در نظر داشت عملكرد هاي قبلي و حركات فعلي مليشه ها به يقين گفته ميتوانيم كه شكست مليشه ها در همه ابعاد يك امر حتمي بوده و هيچ امكاني موجود نيست تا پيشروي آنها را تضمين كند، اين به خاطري كه گروه هاي باغي بر خلاف [illegible] خواست ملت مسلمان افغانستان [illegible] جنگ افروزي و سركشي اند، [illegible] اسلام كه از [illegible] ملت مجاهد [illegible] در صدد تعميم و تعميل عقايد و نظريات پوچ ديگران در كشور اند كه [illegible] مليشه هاي باغي بنا بر حسادت دروني كه با مجاهدين واقعي اسلام دارند، نميتوانند بپذيرند كه امارت اسلامي از حمايت عام و تام ملت مجاهد افغان بر خوردار بوده افتخار تامين امنيت سرتاسري در كشور را داشته باشد، بنا، در تلاش انارشي و بي امنيتي در كشور ميباشند كه اين خيال آنها نيز هيچگاهي براي ملت قابل قبول نمي باشد. همچنان قتل و قتال ، غارت و چپاولگري ، فساد پيشه گي و تجاوزات گوناگون آنها بر اهالي مناطق تحت تسلط شان همه و همه دلايلي است كه "ان شاء الله" بايد شكست بخورند و نابود شوند. در شرايط فعلي براي بقاي باغيان صرف يك راه موجود است و آن عبارت از توبه حقيقي از همه اعمال ننگين گذشته و قبول حاكميت نظام اسلامي در كشور توسط امارت اسلامي افغانستان است كه بدين صورت مليشه ها ميتوانند از آب و هواي افغانستان عزيز مستفيد شوند در غير آن ضربات كوبنده مجاهدين امارت اسلامي، قيام هاي ملي و مردمي اهالي ولايات شمال و از همه مهمتر قهر و غضب الهي كه نصيب حال ظالمان و مفسدين است، بيخ و بن گروهك هاي مليشه را خواهد كشيد. پس بهتر است تا سران باغيان سر حال آمده ، و بيش از اين به راهي نروند كه در آن خسر الدنيا و الاخره گرديده و بدين ترتيب خود و تابعين خويش را از شرمساري دنيا و آخرت نجات بخشند.

SHARIAT WEEKLY
Published by
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel #: 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press

يادونه

[illegible] ستاسو ايمان په اجازه [illegible] چي دا ډول [illegible] په تاوو ځايونو كښي وغورځوئ.

د ګڼون بيه له هيواد نه بهر

ملك	شپږ	كلني
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150